مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۶/۰۳/۱۵

# د افغانې مور په اه کې

تور پنجابه سره لمبه شي افغانې مور په اه کې
تور سکاره خړه ایره شي، افغانې مور په اه کې

تر پنځوس کلونو رسي سوځوې اونړوې مور
د نړۍ له نقشي ورک شي افغانې مور په اه کې

وار به راشي خیر دی نه شته، بچو له غچ و قهره
شي لوخړه به هوا کې، د افغانې مور په اه کې

ستا هر ظلم ناروا خو، لیک شوه کرښه پر ډبره
د تاریخ سینې تـه پاتې، افغاني مور په اه کې

تر راتلونکي نسل رسي، دا ستا توره کارنـامـه
غچ به اخلي لـتـا ګوره افغاني مور پـه اه کې

ته چنګیز د زمـاني، له هغه هم خونړی یـې
شي رسوا لکه ابلیس به، افغانې مور په اه کې

د تنکیو ماشومانو وینې ښنونکی برمانو ۱ یې
اور لړونی د سره اور یې افغاني مور په اه کې

ورکیدو ته نږدې کیږي تا میږې وزرې کړې
کرایې قاتل برباد یې، افغاني مور پـه اه کې

دې خاورې له ازاره چا بازار میندلی نه دی
تالانګر دی سر خوړلی افغاني مور په اه کې

لر او بر دې سوځولی هر افغان دې تلولی
د نیستۍ پر لور ښوریږې افغاني مور په اه کې

---

۱ ـ ویرونکی سړی، ډارونکی موجود.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ